ښاغلی الحاج عبدالله غمخور

# لوی خان غازي میرزمان خان

دننــــگ تورته بـــــه مې هـــر هله وي

کــــه پس له مـــرگه په گور راشې مینه

ســر لښکر د لښــــکريانو خـــانه ته وې

نــاموره دغـــــازيانو خانـــــه ته وې

کارفرما په "بریکوټ" کې بل څوک نه و

رهنمـــا د باتـــورانو خــــانه تـــه وې

معــرکـــه د خپلواکۍ وه پـــه تا گرمه

شـــملور د فــــدايانو خـــــانه ته وې

مبـــارز د آزادۍ د میـــدانـــــونو

صـف شـــکن د غـــلیمانو خانه ته وې

په جـــرئت او شـهامت کـې بې مانده

پیش قـــدم له جنرالانــــو خانه ته وې

نه مـــلا و نه مــــلک و نـــه ارباب و

غـــوخ پــه غـــم د افغانانو خانه ته وې

د کـــونړ د شــــنو درو او جگو غرونو

هنـــگامه د شنو زمـــريانو خانه ته وې

په "غـــازي" باچاوې گران له هره چانه

نـــور چـــشم د چشمانو خــانه ته وې

د جهاد د ستر بري له برکته
چې "لوې خان "شوې د خانانو خانه ته وې
په میوند که آوازه د ایوب خان وه
شهسوار د کونړیانو خانه ته وې

سرآغاز د قربانۍ د منزلونو
سرآمد د فاتحانو خانه ته وې
چې تاریخ دې هیرولې نشي خانه
ځار قربان شم ستا د تورې د مړانه